## ستاسو د غوښتنلیک ثبتول او سپارل به کله او چېرته ترسره شي؟

یوځل چې تاسو له چارواکو څخه د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې وي، ستاسو غوښتنلیک به په هماغه ورځ او په هماغه ځای کې ثبت او وسپارل شي. دا به د دولت د سرحدي ساتنې ګارد لخوا ثبت او وسپارل شي




دا ډېره مهمه ده چې تاسو د خپل غوښتنلیک سپارل بشپړ کړئ. که چېرې تاسو د سپارلو بشپړولو کې پاتې راشئ، ستاسو غوښتنلیک به بېرته اخیستل شوی وګڼل شي، ترهغه چې د دې پاتې راتللو وجه ستاسو له کنټرول څخه بهر وي. دا په دې مانا دی چې تاسو به د یو غوښتونکي په توګه خپل وضعیت، د ملاتړ او خدمتونو حق او په دې هېواد کې د پاتې کېدو حق وبایلئ.



له تاسو څخه به د خپل غوښتنلیک د ملاتړ لپاره د ټولو موجودو معلوماتو او اسنادو سپارلو غوښتنه وشي. په دې کې د لاندې پورې اړوند معلومات او اسناد شامل دي:

- ستاسو وطن او هر هغه هېواد چې تاسو پکې ژوند کړی دی
- هغه لاملونه چې تاسو خپل هېواد پرېښود او ولې تاسو بېرته ستنېدل نه غواړئ
- ستاسو او ستاسو د کورنۍ شالید (بیګروند)
- ستاسو اروپا ته او د اروپا له لارې د سفر جزئیات
- د نړیوال خوندیتوب لپاره کوم مخکیني غوښتنلیکونه.

د دې ګامونو ترتیب کېدی شي توپیر ولري مګر ټولو غوښتونکو سره یو شانته طریقې چلند کیږي. راټول شوي ډیټا (معلومات) به په ملي او اروپايي ډېټابیسونو کې په خوندي توګه زیرمه شي.

دا ستاسو مکلفیت دی او ستاسو په ګټه دی چې رښتیا ووایئ او له چارواکو سره همکاري وکړئ.



یوځل چې تاسو خپل غوښتنلیک ثبت کړئ، تاسو به یو رسمي سند ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره یو غوښتونکی یاست.

تاسو باید دا هر وخت له ځانه سره ولرئ.

## که چېرې تاسو له ماشومانو یا یو متکي بالغ (لوی کس) سره رارسېدلي یاست نو څه کړنلاره ده؟



که تاسو له لاندې مواردو سره رارسېدلي وئ:

- د خپلو 18 کالو څخه کم عمر لرونکو ماشومانو سره، یا
- د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکو ماشومانو سره چې د چا لپاره تاسو په قانوني توګه ذمه وار یاست

دوی به هم د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کولو ته اړتیا ولري. ماشومان له تاسو سره چارواکو ته تللو ته اړتیا لري.

که چېرې ستاسو ماشومان 18 کاله یا له دې څخه پورته عمر ولري، نو دوی باید خپل غوښتنلیک پخپله وسپاري.



که چېرې تاسو د یو داسې کس ذمه وار یاست د چا عمر چې 18 کاله یا له دې څخه زیات وي او معلولیت ولري چې دوی د پرېکړو کولو څخه منع کوي، تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه او د دوی په استازیتوب غوښتنلیک سپارلی شئ.



هغه کس د دوی غوښتنلیک د ثبتولو پر مهال ستاسو سره حاضرېدو ته اړتیا لري.

## کوم هېواد به ستاسو غوښتنلیک وڅیړي؟




تاسو ته تضمین درکول کیږي چې د +EU یو هېواد به ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک وڅیړي. تاسو هېواد نشئ غوره کولی.

چارواکي به یوه کړنلاره تعقیب کړي ترڅو پرېکړه وکړي چې کوم +EU هېواد ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک ذمه وار دی. دې ته د ذمه واری ټاکلو کړنلاره ویل کیږي.

د دې موخې لپاره، تاسو اړتیا لرئ چې چارواکو ته لاندې شیان وواياست.

- که چېرې تاسو د کورنۍ غړی په بل +EU هېواد کې لرئ.
- که چېرې په تېرو وختونو کې بل +EU هېواد تاسو ته ویزه یا د استوګنځای سند صادر کړی وي. (ویزه تاسو ته اجازه درکوي چې د یو هېواد لیدنه وکړئ. دا ستاسو په پاسپورټ کې یوه ټاپه کېدی شي. د استوګنځای سند هغه سند دی چې تاسو ته په هېواد کې د پاتې کېدو اجازه درکوي.)
- که تاسو مخکې د +EU بل هېواد ته دننه شوي یاست.
- که تاسو دمخه په بل +EU هېواد کې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې وي.
- که بل +EU هېواد تاسو ته د زده کړې (تعلیمي) ډیپلوم یا وړتیا صادره کړې وي.

که چارواکي باور لري چې بل +EU هېواد کېدی شي ستاسو د غوښتنلیک د پلټلو ذمه وار وي، تاسو به په دې کړنلاره او د خپل حقونو او مکلفیتونو په اړه نور تفصیلي معلومات ترلاسه کړئ.

تاسو نور معلومات په یوه جلا بروشر کې موندلی شئ.

## ستاسو غوښتنلیک به څنګه وځیړل شي؟

### د منلو وړ څېړنه

په ځینو حالاتو کې، ستاسو د غوښتنلیک دمخه پلټنه به شتون ولري.

دې دمخه څیړنې ته د منلو وړ څېړنه ویل کیږي او دا تر 2 میاشتو پورې وخت اخلي.

دا په دې مانا ده چې چارواکي به لومړی پنځه لاندې پوښتنې وڅېړي.

- آیا تاسو دمخه په بل +EU هېواد کې نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړی دی؟
- آیا تاسو دمخه په کوم غیر EU هېواد کې نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړی دی، چېرته چې تاسو به خوندي یاست او کوم ته چې بېرته ستنیدی شئ؟
- آیا تاسو بېرته هغه هېواد ته لېږدول کېدی شئ چېرته چې تاسو خوندي یاست او چېرته چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک څیړل کېدی شي؟
- آیا تاسو د بېرته ستنېدو پرېکړې ترلاسه کولو څخه وروسته له 7 ورځو څخه ډېر وخت لپاره د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې؟
- آیا کومې نړیوالې جنايي محکمې یا ټریبونل (یوه اداره چې شخړې حل کوي) تاسو ته بل هېواد ته د خوندي لېږدونه چمتو کړې ده یا ایا کومه نړیواله جنايي محکمه یا ټریبونل (یوه اداره چې شخړې حل کوي) د دې کار په پروسه کې ده؟



تاسو کېدی شي مرکې ته راوبلل شئ چې دا پوښتنې پوښي. دې ته د منلو وړ مرکه ویل کیږي. د دې مرکې پرمهال، له تاسو څخه کېدی شي د هغو لاملونو په اړه هم وغوښتل شي چې ولې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې او ولې خپل هېواد ته بېرته تلل نه غواړئ.

د پورته پوښتنو سره په تړاو کې ستاسو د حالاتو پورې اړه لري:

- ستاسو غوښتنلیک کېدی شي رد شي، یا
- کړنلاره به دوام ومومي او چارواکي به وڅیړي چې ایا تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.

د تابعت او کډوالۍ به تاسو ته خبر درکړي که چېرې د منلو وړ څېړنه ستاسو لپاره پلي کیږي او نور وضاحتونه به وړاندې کړي.

## ستاسو غوښتنلیک به څنګه وڅېړل شي؟

### ستاسو د غوښتنلیک څېړنه

چارواکي به وڅېړي چې ایا تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.



تاسو ته به یو **شخصي مرکې** ته بلنه درکړل شي.

تاسو به بلنه د پُست له لارې / د برېښنالیک له لارې / د برېښنایي حساب له لارې / په شخصي توګه ترلاسه کړئ.

مرکه به په حضوري ډول یا په استثنایي حالاتو کې، له لرې څخه ترسره شي.
مرکه به په غږیز ډول ثبت شي.

مرکه ستاسو لپاره یو فرصت دی چې هغه وجې په تفصیل سره وړاندې کړئ چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کوئ او ولې خپل هېواد ته بېرته ستنیدل نه غواړئ.
تاسو باید په شخصي مرکه کې ګډون وکړئ او په وخت راورسېږئ. که چېرې تاسو د جدي او معتبر وجې پرته په شخصي مرکې کې ګډون ونکړئ، ستاسو غوښتنلیک به بېرته اخیستل شوی وګڼل شي او ستاسو قضیه به نور نه څېړل کیږي. که چېرې تاسو د مرکې په جریان کې د جدي وجې پرته پوښتنو ته د ځواب ویلو څخه انکار وکړئ، ستاسو غوښتنلیک به هم بېرته اخیستل شوی وګڼل شي.

د هر بالغ (لوی کس) غوښتونکي سره به په جلا توګه مرکه وشي.

ستاسو ماشومانو ته به فرصت چمتو شي چې مرکه ولري.

د شخصي مرکې وروسته، ستاسو غوښتنلیک به وارزول شي. چارواکي به پرېکړه وکړي چې آیا تاسو به نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړئ یا نه.

په استثنایي حالاتو کې، شخصي مرکه کېدی شي ترسره نشي. چارواکي به تاسو ته خبر درکړي که چېرې دا ستاسو لپاره پلي کیږي.



### ستاسو د غوښتنلیک په څېړنه به څومره وخت ولګیږي؟

کړنلاره به د سپارلو له ورځې څخه تر 6 میاشتو پورې وخت واخلي.
ځینې وختونه، څېړنه ډېر وخت اخیستلی شي مګر دا باید له 21 میاشتو څخه ډېر وخت ونه اخلي.

## تاسو به د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک په اړه پرېکړه څنګه ترلاسه کړئ؟



یوه لیکلې پرېکړه به د پُست له لارې ولېږل شي / په برېښنايي ډول ولېږل شي / نیغ په نېغه تاسو یا ستاسو قانوني سلاګر (سلاګرې) ته په لاس کې ورکړل شي، که تاسو لرئ. تاسو ته به په هغه ژبه کې د پرېکړې د پایلو په اړه خبر درکړل شي چې تاسو پرې پوهېږئ.

که چېرې پرېکړه منفي وي، نو وجې به یې په پرېکړه کې تشریح شي او تاسو ته به خپل هېواد ته د بېرته ستنېدو پرېکړه صادره شي.

### د استیناف درخواست کولو احتمال



که چېرې تاسو د پرېکړې سره موافق نه یاست، نو تاسو د هغې په وړاندې استیناف/اپیل کولی شئ. دا په دې مانا دی چې یوه محکمه به د پرېکړې بیاکتنه وکړي. تاسو یې لګښته د قانوني سلاګر (سلاګرې) لپاره غوښتنه کولی شئ ترڅو تاسو سره استیناف/اپیل کې مرستې وکړي.

تاسو په پرېکړه کې ورکړل شوې ځانګړې مودې کې دننه خپل استیناف وړاندې کولو ته اړتیا لرئ. که چېرې تاسو منفي پرېکړه ترلاسه کړئ نو تاسو به په دې اړه نور تفصیلي معلومات ترلاسه کړئ.

که ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک او استیناف رد شي، او تاسو د نورو وجو لپاره د پاتې کېدو حق نلرئ، نو تاسو باید په ښه شوې نېټې پورې د لاتویا جمهوریت قلمرو پرېږدئ. که چېرې تاسو په رضاکارانه توګه نه ځئ، تاسو کېدی شي بېرته ستنېدو ته مجبور شئ.

## تاسو د شفاهي ژباړې ترلاسه کولو حق لرئ



که چېرې تاسو په لاتویایي کې خبرې نه کوئ، یو ژباړونکی به ستاسو سره په راجستر کولو او ستاسو د غوښتنلیک د سپارلو پرمهال او همدارنګه ستاسو د شخصي مرکې پرمهال له چارواکو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي. ژباړونکی بې لګښته دی.

ژباړونکی بې طرفه دی، دا په دې معنی چې دوی د هیچا طرفداری نه کوي. دوی محرمیت ته درناوی کوي او هر هغه څه چې تاسو یې وایئ د باصلاحیته چارواکو څخه بهر له هیچا سره نه شریکوي.

ژباړونکی ستاسو د غوښتنلیک په پرېکړه باندې هېڅ اغیزه نلري.

په سمدستي توګه چارواکو ته خبر ورکړئ که چېرې تاسو په ژباړونکي باندې نه پوهېږئ یا فکر کوئ چې ژباړونکی بې طرفه نه دی.

## تاسو د خپلې شخصي مرکې لپاره د نارینه یا ښځینه ژباړونکي او مرکه کونکي غوښتنه کولی شئ، که چېرې دا تاسو سره په بشپړ ډول ځان څرګندولو کې مرسته کوي



ستاسو د وجو پورې اړه لري او که شتونوالی ولري، ستاسو غوښتنه به پوره شي.

**وړ هغه معلومات او اسناد چې ستاسو د غوښتنلیک ملاتړ کوي د دولت د سرحدي ساتنې ګارد یا د تابعت او کډوالۍ د چارو ته وسپارئ**

که تاسو د پېژندنې اسناد لرئ، نو تاسو باید ژر تر ژره دا وړاندې کړئ.

تاسو باید نور هر ډول معلومات او اسناد وسپارئ چې ممکن چارواکو سره ستاسو د غوښتنلیک په څېړلو یا ستاسو د غوښتنلیک د څېړلو ذمه واره هېواد په اړه پرېکړه کولو کې مرسته وکړي. دا اسناد، د مثال په توګه، پاسپورټ، د واده تصدیق نامه، د کورنۍ کتاب، د پوځي هویت کارت، د کار ثبوت، د سیاسي ګوند د غړیتوب کارت، تصدیق نامې، د محکمې او پولیسو راپورونه، عکسونه او طبي یا رواني اسناد کېدای شي.

تاسو هغه اسنادو سپارلو ته اړتیا نلرئ چې یوازې ستاسو د هېواد په اړه عمومي معلومات لري. د پناه غوښتنې چارواکي ستاسو په هېواد کې د حالت څخه خبر دي.

تاسو باید د غوښتنلیک سپارلو په وخت کې ژر تر ژره ټول معلومات او اسناد وسپارئ. که چېرې تاسو سره اسناد سمدستي شتون نلرئ، نو تاسو باید هغه ژر تر ژره وسپارئ چې تاسو یې ولرئ، تر هغه چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه وشي، د پُست له لارې یا د برېښنالیک له لارې د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته.




اصلي اسناد وړاندې کول لازمي دي، چېرته چې امکان لري. تاسو باید د پېژندنې هېڅ اسناد له منځه یونسئ یا یې تصفیه نکړئ. تاسو باید هېڅ اړونده اسناد منع نکړئ. تاسو باید هېڅکله جعلي یا غیر قانوني جوړ شوی سند ونه سپارئ.

که امکان ولري، او تر هغه حده چې دا خطر رامنځته نه کړي، له خپلو ملګرو یا خپلوانو څخه وغواړئ چې تاسو ته ستاسو اسناد راواستوي.

